# د دکتور محمد اشرف غنی دفتر

نیټه: ۹/وری/۱۴۰۳

## د پودکاستونو لسمه برخه

**سریزه (داود جنبش)**

سلام دوستان و شنوندگان عزیز! به پودکاست دیگر با رییس جمهور محمد اشرف غنی خوش آمدید.

دې خپرونې ته مو د افغانستان د اوبنیو سرچینو موضوع او دا چې څه ډول سمبال شي او مدیریت یې وشي، غوره کړې ده. ډاډه یم چې ستاسې هم خوښیږي، نو بسم الله، زه داود جنبش یم.

ډاکتر صاحب، تاسې ته هم زما درناوي او د زړه له کومې سلامونه.

**دکتور غني:** بسم الله الرحمن الرحیم. ډیره مننه له تاسې نه او له ټولو وطنوالو نه چې دا برنامه اوري.

**جنبش:** بیایید از یک نقل قول شما، فکر کنم که در مراسم افتتاح بند کمال خان بود یا یک جای دیگر گفتید که آب آبرو ماست، چون برنامهٔ آب است، من میخواهم که از همینجا شروع کنیم، که چرا شما این ترکیب را انتخاب کردید، از خاطر اینکه وزن کلمات - آب و آبرو با هم نزدیک بود، یا فکر میکنید که در بین ارزش های دیگر آب آنقدر مهم است که باید مثل آبرو که به حفظش همهٔ ما مامور هستیم، توجه کنیم؟

**دکتور غني:** آب نعمت خداوندی است، بدون آب زندگی غیر ممکن است و هیچ تمدن در آسیا بدون مدیریت آب قایم نه شده و دوام نداشته و اهمیت آبرو در این است که هم بالای چشم قرار دارد و هم موضوع حیثیتی ما است، این یک سرمایهٔ ملی است، که مثل آبروهای چشم ما واری باید هر قطره اش مورد توجه قرار بگیرد و اهمیت هر قطره اش هر طفل، هر جوان، هر زن، هر مرد، به صورت خلص هر افغان باید بداند و قدر کند.

**جنبش:** د تمدنو په ایجاد کې هم د اوبو ارزښت ډېر واضح دی، موږ به ان شاءالله په دې باندې وغږیږو؛ په قرآن کریم کې هم اوبه د ژوندانه سرچینه بلل شوې، مثلاً راغلي دي چې (وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ).

خو بیا هم پوښتنه داده چې په وطن کې ډېرې نورې خبرې شته، لاندې باندې شته، وړې زړې شته، په دې ټولو کې تاسې ولې د اوبو موضوع ته دومره ارزښت ورکاوه، ولې مو دا رالومړی کړې وه؟

**دکتور غني:** لومړی مننه د قرآني حکم له ذکر نه، دا واقعاً د ژوند اساس ده او لکه نورې سترې مسئلې [دې ته ورته] چې قرآن شریف کې مطرح شوې دي، دا یوه حیاتي موضوع ده او زموږ ایماني او وجداني وظیفه ده.

زما کوچنیوالی په دوو کلیو کې تیر شوی - لوګر کې د سرخاب کلی او ننګرهار کې د سرخرود کلی، دواړه سره رودونه دي.

**جنبش:** دواړه رودونه دي او دواړه سره رودونه دي..!

**دکتور غني:** دواړه سره رودونه دي او د اوبو مديريت په دواړو کې خورا ډېر اهميت درلود، خاصتاً سرخاب [د لوگر ولايت] کې، چې يو کاريز چې شايد زر کلن وي يا ډيرتر، هغه اوبه چې د سلطان صاحب له چينې نه راځي په حدود د ٦ تر ٨ کيلومترو [مساحت په اندازه] زرغون ښار کلي ته [دننه] چې شايد د افغانستان له لوی ترينو کليو نه وي، انتقالوي. ورځ يې [د کاريز اوبو نوبت] د سرخاب د کليو دی او په شپه کې اوبه د زرغون ښار دي، نو له دې نه [اوبو سره زما مينه او علاقه] پيدا شوې وه.

دويم، هغه وخت چې زه يو ځوان استاد وم د ادبياتو پوهنځي کې او په حدود د ۴۰۰ محصلينو سره مې په کال کې کار کاوه، موږ د افغانستان پېژندنه پيل کړل او د اوبو مسئله يو له [لومړيتوبونو] وه چې تقريباً ښتو ډېرو محصلينو له خوا مطرح شوه، نو زه يې په دې مجبور کړم چې د اوبو تاريخ پسې وگرځم او په تفصيل. خاصتاً هرات کې چې له دولسمې پيړۍ نه پس موږ ډير اسناد لرو، هجده نهر باندې چې د حضرت علي کرم الله وجهه د روضې لپاره لوی ترين کانالونه جوړ شول، تيموري دوران کې. د لوگر په سيند باندې او نورو سيندونو باندې، کاريزونو او دې باندې [تحقيقات او څېړنه وکړم] او پس له هغه نه چې زه د دکتورا لپاره مې لاړم، په عمومي توگه بين المللي مقايسوي توگه مې اوبو ته کتنه وکړه او خاصتاً په عملي توگه زما پنځه لومړي کلونه په نړيوال بانک کې يوه ډيره برخه [څېړنه] په اوبو باندې تېره شوه، خاصتاً د هند او چين پرتله باندې او د چين په دويم لوی بند باندې چې شاولاندې نوميږي او ددوی په لوی سيند باندې بند جوړ شوی دی او ٦٠، ٧٠ ميليونه نفره يوازې [د کانال په اوبو] باندې [تکيه] وو.

ما تقريباً ۵ کاله [د اوبو په برخه کې] کار وکړ، نو پس له هغه نه چې زه بېرته لاړم، د اوبو مسئله ما ته يوه حياتي مسئله وه او دې څو کلو کې هم د چاپيريال په بدلون باندې چې ما مطالعات کړې دي، دا ټول [تحقيقات او څيړنې] سره يوځای شوې دي چې د اوبو مسئله په يوه اساسي مسئله باندې بايد زموږ د توجه وړ وگرځي.

**جنبش:** زه په خپله هم له يوه سيند سره تړاو لرم – د کونړ سيند ډير مشهور دی، دغسې سيندونه خو ډير لرو، زه غواړم هم ددغه ځای نه يې راپيل کړو، ستاسې علاقه هم د ډيرې مودې نه ده، تحقيقات مو هم پرې کړي چې اورېدونکې وپوهيږي چې موږ د اوبو د سرچينو له پلوه په کوم دريځ کې يو؟ د سيمې له هيوادو سره په مقايسه او په عمومي ډول په جهان کې. ويل کيږي چې موږ ډير سيندونه او ډيرې خوږې اوبه لرو چې په نورو هيوادو کې دغسې نعمتونه ډير کم دي، موږ په کومه درجه کې يو؟

**دکتور غني:** تاريخي له نظره زموږ سيندونو ډېر اهميت درلود، اوس هم اهميت لري، اما د چاپيريال په بدلون کې له يوې خوا نه او د نفوس له ډېرېدو سره له بلې خوا نه، زمونو ډېرې د اوبو حوزې ډير سخت فشار لاندې دي او دا عاجله ده چې په دې باندې پوه شو. لوی ترين فشار اوس له يوې خوا نه د شمال په سيندو باندې دی چې دا

ټول زموږ په خاوره کې دي، چې له هندوکش نه راځي او ځمکه خړوبوي. د آمو سیند –پنج آمو سیند هغه حوزه زموږ ډېرې لويې اوبه دي چې له بده مرغه موږ په نولسمه او شلمه پېړۍ کې له دې نه ډېره کمه ګټه پورته کړې. د کابل د سیند حوزه چې هم شاوخوا د کابل ولایتونه او هم د ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونه دا ټول په دې پورې تړلي دي او همدارنګه پکتیکا، پکتیا او خوست ورباندې تړلې دي، دا حوزه ډېر سخت فشار لاندې ده، ځکه چې نفوس ډېر شوی.

هلمند کې د هوا د تودښت [درجه] په تېرو ۵۰ کلو کې ۱،۱ درجه د سانتي ګراد جګه شوې ده چې د پرتلې له نظر نه ډېره خطرناکه ده او راتلونکو شلو یا دېرشو کلو کې شاید یوه نیمه درجه تر دوو درجو نوره اوچته شي. نو اوبه لرو اما باید اوس په دې فکر کې ونه اوسو چې اوبه مو خوندي دي او دوامداره به وي. هم وېش باندې، هم مدیریت باندې او هم محافظت باندې باید لومړیتوب ته متوجه اوسو.

**جنبش:** پس به این حساب دریاهای ما علاوه از اینکه نام های خاص خود را دارند – دریای کجا و دریای کجا، به حوزه ها هم تقسیم می شوند؟

**دکتور غنی:** به صورت اساسی تقسیم بالای حوزه های بزرگ است. باز هر حوزه، حوزه های فرعی دارد و این هم در قانون آب و هم به صورت اساسی در سال های آخر [تثبیت شده است]. طور مثال: حوزۀ دریای کابل دوازده حوزه فرعی دارد. همچنین هر حوزه دیگر را ببینید و بعضی از این دریاها باوجودیکه شاید از نگاه حجم کم باشد، از نگاه تاریخی و وضعیت فعلی زندگی اهمیت زیاد دارد.

یو مثال یې د ګومل سیند دی او د کورمې سیند، چې دا ټول تړلي دي او [د خلکو] ژوند ورباندې [تړلی دی]، نو که لویه حوزه نظر کې ونه نیسئ مدیریت ډېر ګرانیږي او که فرعي حوزې ته هم توجه ونکړئ [همداسې ده]. دا ټول حساب او کتاب ددې چې چیرې باید څه رقم بندونه جوړ شي، کومې اوبه په څه باندې ولګیږي، څه په معادنو باندې ولګیږي، څه په ځښاک باندې ولګیږي، څه د ښارو لپاره ولګیږي، دا نو بیا یو منسجم نظم او نظام کې نه راځي.

**جنبش:** بخاطر اینکه شنونده ها را کمک کرده باشیم، یک رقم داده میتوانیم که مثلاً به صورت کل ما چند حوزه دریایی داریم و این شامل چقدر دریاهای بزرگ و دریاچه های خورد می شود؟

**دکتور غني:** بلی؛ پنج حوزه بزرگ دریایی داریم، که حوزه اول دریای کابل است و این به دوازده حوزه فرعی تقسیم شده است - حوزه فرعی دریای پنجشیر بالایی، حوزه فرعی دریای پنجشیر پائینی، حوزه فرعی دریای غوربند، حوزه فرعی کابل وسطی، حوزه فرعی رود خانۀ میدان، حوزه فرعی دریای لوگر، حوزه فرعی دریای

لغمان، حوزه فرعی دریای کابل پائینی یعنی ننگرهار، حوزه فرعی دریای کنر اسعد آباد، حوزه فرعی دریای پارون نورستان، حوزه فرعی دریای شمل و کرمه خوست و حوزه فرعی دریای گومل در پکتیکا.

حوزۀ دوم بزرگ آبی ما حوزه دریایی پنج آمو است و این حوزه با حوزه های فرعی دریای پنج بالا، حوزه فرعی دریای پنج پائین، حوزه فرعی کوکچه، حوزه فرعی تالقان، حوزه فرعی شور تیپه و حوزه فرعی کندز پائینی و حوزه فرعی کندز بالایی، تقسیم می شود.

حوزۀ سوم ما حوزه دریایی شمال است، که این حوزه دریای بلخاب مزار شریف، دریای سرپل پائیني در جوزجان، دریای شیرین تگاب میمنه، دریای خلم و دریای سرپل بالایی را تشکیل میدهد.

حوزۀ چهارم ما حوزۀ هریرود مرغاب است و این حوزه به چهار حوزۀ فرعی تقسیم شده که حوزه فرعی هریرود بالا است در چخچران شهر فیروز کوه، حوزه فرعی دریای هریرود پائینی هرات، حوزه فرعی دریای مرغاب در قلعه نو و سال های گذشته فراه رود هم از نگاه امنیتی تحت این حوزه بود، اما فراه رود به صورت اساسی جز دریای هلمند است.

و حوزۀ پنجمی ما دریای هلمند است، که این هفت حوزه فرعی است، که اول دریای هلمند بالایی، دوم دریای هلمند پائینی، سوم حوزه دریای ترینکوت، چهارم دریای ترنک، پنجم فراه رود، ششم آب ایستادۀ غزنی و هفتم حوزه فرعی آب ریزه ارغنداب.

**جنبش:** دا سیندونه دغو پنځو حوزو کې چې ورگډیږي، ټول خو یې هر موسم کې اوبه نه لري، ځینې یې یو موسم کې اوبه لري بیا وچ وي؟

**دکتور غني:** هو؛ ځینې فصلي دي، ځینې دوامداره دي او حتی د حوزو له نظر نه هم په دې کې [توپیر] شته چې نه یوازې فرعي حوزې بلکې ټول سیندونه او په عمومې توگه فصلونو کې لوی توپیر وي.

**جنبش:** در عین حال ما برعلاوۀ آب روی یا سطح زمین که دریاهاست، آب های زیر زمین هم داریم، اینها هم به سیستم های شبیه تقسیم می شوند یا محاسبۀ دیگری برای آنها وجود دارد؟

**دکتور غنی:** یک نقطۀ بسیار کلیدی را شما ذکر کردید و در اینجا یک تفکیک اساسی به کار است.

آب های زیر زمینی ما دو نوع است به صورت اساسی، یک آب هایی است که سالانه تجدید می شود و دوم آب هایی است که در دوره های جیولوجیک تشکیل شده و در حقیقت آب های محبوس است و یکبار که اینها استخراج شوند بعد از آن ختم می شود و این تفکیک اساسی بدبختانه از نگاه چاه های عمیق مد نظر گرفته نه شده است.

**جنبش:** یعنې دقیق موږ پوهیږو چې کوم ځای کې کوم ډول اوبه دي، ځکه چې خلك د ځمکې نه اوبه راوباسي بې له دې چې وپوهیږي چې دا په کومه کته ګورۍ کې راځي، آیا خلاصیدونکې دی که بېرته تجدیدونکې؟

**دکتور غني:** دې باندې نه پوهیږي له بدې مرغې نه، او له همدې نظره ده چې نن تقریباً د افغانستان ټول ښارونه د اوبو په ستونزو باندې اخته دي، که څاه ګانو ته وګورئ ۵۰ کاله که نظر کې ونیسئ او خاصتاً وچکالیو کې، ورځ په ورځ باید کیندنې عمیق تره شي او دا خپله یوه نمونه ده او هرات ستونزه لري، کندهار ستونزه لري، کابل ستونزه لري، مزار ستونزه لري، حتی جلال آباد چې په اوبو باندې ډېرتر استوار دی، اما د څاه ګانو او ددې له نظر نه [د اوبو ستونزه لري]، خوست ستونزه لري، ګردېز ستونزه لري، تالقان ستونزه لري، مزار شریف، شبرغان دا ټولو کې وګورئ، میمنه کې دا ټولو کې [د اوبو] یوه اساسې ستونزه ده او له بدې مرغې نه ځکه چې امنیتې شرایط له یوې خوا نه او تخنیکي پوهې له بلې خوا نه دا اجازه نه وه ورکړې، موږ د خپلې ځمکې لاندې اوبو باندې کافي پوهه نه لرو.

**جنبش:** دا نه ده راټوله شوې که خلکو ته نه ده ویشل شوي؟

**دکتور غني:** په اساسې توګه لا هغه مطالعات چې ضرور دي او دا مطالعات داسې نه دې چې یو وارې وشي.

هغه اوبه چې محبوسې اوبه دي، باید په سمه توګه وټاکل شي، ځینو ځایونو کې موږ پوهیږو چې څه دي، ځکه سروی ګانې ځینې اوقاتو کې شوې دي.

**جنبش:** مثلاً کوم ځایونه؟ وبخښئ.

**دکتور غني:** د مثال په توګه د لوګر په دښتو کې د داود خان په دوره کې هغه څېړنې چې شوې وې، کافي اوبه تشخیص شوې وې.

**جنبش:** چې نوې کیږي یعنې له سره نورې پیدا کیږي؟

**دکتور غني:** اما دا چې څنګه دي او په څه رقم دي او دوامداري دې که نه دي، دا تثبیت غواړي او دلته پوهه په کار ده او منسجم [نظم او نظام په کار دی]. هغه شی چې موږ همیشه نه دی درلودلی تداوم دی، ځکه یو تخنیکي نسل له بل تخنیکي نسل سره وصل شوی نه دی، بیا موږ له صفري ټکو نه شروع کوو یا پخوانیو اسنادو ته په دې رقم ګورو چې دا [وروستۍ خبره ده].

د مثال په توګه: هر څوك به درته وایي چې سروې ګانې شوې دي او دې ځای کې بهترین بندونه باید جوړ شي. کله چې په عمل کې وګورئ هغه تحقیقات یا ډېر سطحي وو، فرضیې وې، په هغه باندې [استناد کېده] او دویم اقلیمې شرایط او ټول تغییرات چې راغلي دي، په نظر کې نه دي نیول شوي. نو نوې پوهه په کار ده.

**جنبش:** دغسې يوه بېلګه د قوشتېپې د کانال مسئولينو سره چې ما خبرې کولې، هغوی راته وويلې: ويل کېدل چې ددې کانال طرحه د داود خان په وخت کې جوړه شوې وه، وايي موږ چې هر څه آرشيفي مواد وکتل نه مو نقشې پيدا کړې، نه مو طرحه پيدا کړه.

**دکتور غني:** همدا خبره ده او په عين حال کې يوازې د داود خان دوره نه ده، په لومړيو کلو کې خاصتاً د ولسمشر اوباما په دوره کې چې [افغانستان ته ډېره] توجه وشوه، د امريکا اردو يوه دستګاه د انجينري لري Army Corps) (Of Engineers دوی ته [د اوبو د سروې] مسئوليت ورکړ شوی و، اما ددوی څېړنې زښتې ډېرې سطحي وې. ټولې چې ما سر تر پايه وکتلې، هسې يو [عمومی] شی يې ويلی و، بې له دې چې اوبه وګوري، بې له دې چې يا د فرعي سيند يا د حوزې يو موډل [ولري او بې له دغو څېړنو نه] تاسې دا شی نشی کولئ. پخواني اسناد اکثراً په آوازو [بنا] دي، چې يو وخت دلته څوک راغلي وو يا تېر شوي وو، بيا چې ګورئ هغه اسناد نه شته.

**جنبش:** پیش از اینکه به مسایل دیگر برویم، بیایید اول سرنوشت حقوقی آب را معلوم کنیم. در افغانستان از نظر قانون معادن و جنگلات و سرمایه های زیرزمینی و غیره مربوط دولت می شود، آیا آب هم تعریف حقوقی دارد، مربوط کیست؟

**دکتور غنی:** بلی، آب تعریف حقوقی دارد، اما با معادن و منابع زیرزمینی فرق های عمده هم دارد. قانون آب در مملکت پاس شده، مدیریت حوزه های بزرگ و حوزه های فرعی از وظایف دولت است. این به صورت عمومی، اما نقطه ییرا که باید مد نظر بگیرید این است که افغانستان هزارها سال سابقهٔ سیستم های آبیاری دارد و از این جهت هم با ملکیت شخصی آب سروکار دارید [مثلاً] یک قسمت کاریزها در طول تاریخ با پول شخصی آباد شده، مخصوصاً کاریزهایی که دور زمین های وقفی ایجاد شد، چون در شریعت مال دولت را برای ایجاد این کاریزها یا ایجاد وقف ها استفاده کرده نمی توانستید، باید از جایداد شخصی یک ملکه یا یک سلطان یا یک شهزاده یا یک خان یا دیگر میبود و تعداد کاریزها تعلق مشخص به این دارد که بازماندگان کسانیکه کاریز را ایجاد کرده اند، در آن حق و حقوق بسیار مشخص دارند.

همچنین جو هایی که از دریا های ما در طول تاریخ کشیده شده، هم با اصول بسیار واضح مرتبط است، مثل: هریرود.

از قرن ۱۴ تا امروز ما اسناد منسجم متداوم داریم، که حوزهٔ هریرود به حیث یک حوزه در قرن ۱۴ چه رقم یک نظام برایش ایجاد شد و این نظام یکی از بهترین نظام های آبیاری بود که ماسراغ داریم و اسنادش خوشبختانه موجود است، از واحد مزرعه تا تمام سیستم دریا که باید به صورت سالانه تجدید نظر می شد. و ما نظام حشر داشتیم که سالانه همه این جو ها پاک می شد و بندهایی که بندهای خاکی بود، دوباره تجدید می شد.

همچنین [در قسمت ]چشمه ها، نظام های خاص وجود داشته و در قسمت کاریزها خاصتاً نظام شرعی ما بسیار روشن و بسیار با اهمیت است، طور مثال: حدودی که یک کاریز نو در موجودیت یک کاریز قبلی ایجاد شده میتوانست به صورت بسیار واضح و مشخص تشریح شده، تا تضاد به وجود نیاید.

همچنین جو های بزرگ از منبع آب تا مزرعه وقتیکه میرسیدند، قرایی که در بین منبع آب و جاییکه از آن استفاده می شد [واقع بودند] از استفاده آن آب محروم بودند واین [مساله مورد پذیرش] مردم قرار می گرفت. مسیر جو ها همچنین مورد [پذیرش بود].

اما در طول نا آرامی ها و بی امنیتی ها بدبختانه یکی از موضوعاتی که سخت صدمه دیده، حریم رودخانه ها است، حریم رود خانه فرعی است و حریم جو ها است، که همهٔ اینها تأثیرات منفی داشته است.

**جنبش:** په دغه هیواد کې چې زه اوسېږم یا ښايي نورو هیوادونو کې هم مثالونه داسې وي، چې سیندونه همداسې هوارو کې پیدا کیږي، هوارو کې بهیږی، همدې هواره کې بیا سمندر ته ورسیږي او هغه کې ورګډ شي، زه فکر کوم افغانستان کې خبره دغسې نه ده، یعنې تر کومه چې ما ته معلومه ده کیدای شي استثناءات به هم وي، تاسې به معلومات وړاندې کړئ، زموږ سیندونه له غرونو نه راوځي او داسې تصور دی چې غرونه دسیندونو میندې دي. ددوی دواړو رابطه څنګه ده، همدغسې ده د زوی او د مور ده، که بله رابطه ده؟

**دکتور غني:** بالکل، څکه چې زموږ غرونه [همدغه راز] د خدای نعمت دي، څکه زموږ غرونو کې اوچتو غرونو کې، هسکو غرونو کې واوره راځي او په پېړیو کې دا واوره په غرونو کې خوندي پاتې کیدله، ډېره ورو ورو په طبیعي توګه باندې د موسم په تغییر سره به په اوبو بدله شوه او ځمکه به یې ښکته خړوبه کړه. نو دا یې اهمیت و او ځنګلونه هم چې په دې غرونو کې وو، خاوره یې ساتله [په ټول مسیر کې] او د سیلابونو مخه به یې نیوله.

بله خوا یې داده چې د هلمند سیند پس له دې نه چې هلمند ولایت ته رسیږي تر فراه او نیمروز او دې [ساحو] کې، په هواره کې دی او هغه وخت چې عربان هم افغانستان ته راغلل، په هغه دوره کې هم بېړۍ په کې چلیدلې او د هلمند خاص خاصیت دادی چې سل هاوو کیلو متره د هلمند په طول کې قصرونه وو، باغونه وو او هغه وخت کې یې واحد سیستان [باله]، سیستان مرکز و او شهنامه کې هم که وګورئ د رستم په باره کې څکه چې مرکز یې نیمروز و، دا ځای زښت ډېر شین و او له تاریخي نظر نه تر دولسمې پېړۍ پورې چې امیر تیمور پدې باندې مسلط شو او وایي چې بندونه یې خراب کړل [که څه هم دا یوازې یو] تاریخي روایت دی، دا ډېر شین و. له بلې خوا نه د اوبو مدیریت دلته زښت ډېر پرمختګ کړی و.

آمو سیند هم کله چې شېرخان بندر ته ورسیږي له هغه ځای نه پس یوه ډیره برخه په آرامه توګه ځي او دې باندې کښتۍ تېریدلې او معلوم داره د شوروي په دوران کې موږ د اوبو له لارې نه هم تجارت درلود او اوس هم ازبکستان او دې سره یوه برخه بندرونه دي.

کابل سیند تر هغه چې ننګرهار ته رسیږي، بېړۍ ورباندې نه چلیدلې، اما پس له ننګرهار نه بعضې اوقات به بېړۍ وې، اما خاصتاً [هلته] چې اوس د بهسودو پُل دی، دلته یوه ډېره لویه حوزه وه او نه پوهیږم چې ستاسې به په یاد وي اما زما په یاد ده...

**جنبش:** زما هم په یاد ده، په بېړۍ کې به...

**دکتور غني:** چې مخکې له هغه نه به په مشکو باندې، جاله یې چې ورته ویلې، موټرې او دا به هاخوا ته تېرېدل.

**دکتور جنبش:** بلې موږ په کې تېر شوي یو، په یاد مې دي، جالب بحث راغی ـ

شما از کشتیرانی در دریای هلمند در ادوار مختلف تاریخی یاد کردید، من قصه یی از تاریخ بیهقی یادم آمد که از یک بزم شاهانه در وسط دریای هلمند در یک کشتی در دوران سلطان مسعود غزنوی یاد میکند، که با پری رویان در کشتی سوار بوده و از قصری به قصری در دریا میرفته و عیش میکرده. یعنی که ما سابقهٔ کشتیرانی داشتیم، اما رشد نکرد، شاید به علت این باشد که دریاهای ما یک نشیب فوق العاده دارند، مثلاً: دریای پنجشیر را اگر ببینید، آب هایی که از سالنگ میآیند، دریای کنر بسیار به شدت جریان دارد که برای کشتیرانی شاید مساعد نه باشد. ولی چرا در دریایی مثل هلمند نتوانستیم همین فرهنگ کشتیرانی را حفظ کنیم؟

**دکتور غني:** دلیل عمدهٔ سقوط حوزهٔ تمدنی هلمند بعد از قرن ۱۲ است و احیای این تنها با پروژه بزرگ وادی هلمند که ایجاد بند کجکی بود صورت گرفت و بعد از اینکه بند کجکی احداث شد، در این حالت لاری جای [کشتی] را گرفته بود. اما قبل از آن در قرن های پیش از آن مثلی که تاریخ بیهقی را گفتید و در همونجا هم بیهقی میگوید که سلطان در آب افتاد و این را به حیث یک شگون میگیرند ... [و بر اساس همین سوابق سیاسی و عسکری مرکز ولایت هلمند را استاد کهزاد] لشکرگاه نامگذاری کرد. نزدیک بُست هم سلطان مسعود و سلطان محمود نه تنها قصرها داشتند، یک باغ وحش بسیار وسیع برای شکار داشتند و تمام این جز اسناد تاریخی تثبیت شده و هنوز هم نشانه هایی از اینها مانده. تمدن دوره سیستان ما یک تمدن بسیار وسیع بود و میبینید بعضی سال ها وقتیکه حرکت باد میآید این تمام قصرها زیر ریگ است و سالهای دیگری که میبینید باز آشکار می شوند.

در ساحهٔ دیگر ما شدت آب به اندازه ای است، در دریای پنجشیر خاصتاً، آن سرعت به اندازه ای است که متأسفانه کسانیکه حتی در جو های نزدیکش آب بازی میکنند، اگر محتاط نه باشند به مرگ دچار شده وجنازه ها را از بند نغلو تا سروبی گرفته اند.

**جنبش:** په همدې برخه کې کله چې زه قوشتیپې کانال لیدو ته تللی وم دغه څو میاشتې دمخه، داسې فکر راولویده همداسې د بیړی چلونې... د کانال عرض ۱۰۰ متره دی او ما فکر کاوه چې... تقریباً ۳۰۰ کیلومتره یې طول دی، که له دې نه د بېړی چلونې له پاره کار واخیستل شي، نو موږ دری څلور ولایتونه په آسانه د مالونو د لېږد او د وګړو د لېږد له پلوه، آسان وصلولی شو.

**دکتور غني:** هو بالکل؛ بین المللي تجربه ډېره واضح ده. چین لوی کانال باندې تړلی دی، لوی ترینه د انجینری پروژه په نړی کې تر هغې چې نولسمې او شلمې پیړی کې نوي بندونه مطرح شو او آباد شول د چین کانال و چې شمال او جنوب یې سره وتړل او [په همدې بنسټ] دا په یوې اقتصادې حوزې باندې بدل شو او اوبه د ټرانسپورټ له پلوه همدا اوس هم ارزانترین دي، پس له هغې نه بیا د ریل پټلی راځي او قیمت ترین ټرانسپورټ معلوم داره په لاریو او دې کې دی. نو ددې امکانات شته او په دې باندې فکر په کار دی. اما هلته لکه چین غونډې یو هیواد یا تایلند غونډې یو هیواد یا ویتنام یا [دې ته ورته هیوادو] کې، یو لوی فرهنګ موجود دی چې وړو کښتیو نه تر لویو بېړیو پورې ټول سره راټولیږي او په منسجمه توګه د ولایتو منځ کې تګ او راتګ کوي او کلیو منځ کې. بنګله دېش هم هغسې هیواد دی چې نیم یې د اوبو لاندې وي په ځینو فصلونو کې او بېړی دي چې له یوه کلي نه بل کلي ته په تګ او راتګ کې دي او بې له هغو بیړیو نه امکان د ژوند نه شته او وریجې د اوبو لاندې کري او بیا یې ریبې.

**جنبش:** در قسمت آب چیزی را که یعنی برای کشور ما و برای همه کشورها مهم است، استفادهٔ آب در زراعت است. برخی از دریاهای ما قسمت اعظم آبش در باغ ها و مزرعه ها به مصرف میرسد و مفیدیت خاص دارد، ولی به مقایسه این دریاها حد اقل دو دریا مثلاً مرغاب در بادغیس و کنر در شرق افغانستان این مؤثریت را یا نه دارد یا بسیار کم دارد، علت خاصی هست؟

**دکتور غني:** بلی؛ دو دلیل عمده [در] هر دو مشابه است. این دریاها دریاهای عمیق است و اکثریت مردم در دامنهٔ کوه ها زندگی میکنند و دوم سرعت آب است، این آب بسیار سریع بود و سریع است. از این جهت یک قسمت زیادش قابل استفاده دوامدار نبوده، اما چیزیکه داکتر ناکامورا به افغانستان به حیث یک میراث دوامدار گذاشته، انطباق و تطابق مدیریت آب جاپان از ۴۰۰ سال پیش بود، برای مهار کردن این آب های تند و این نتیجهٔ نهایت خوب داشته است.

نقطهٔ دومش که یک نقطهٔ امید است، این است که با پمپ های برقی هر چه مقیاس پمپ های برقی بزرگتر شود و حجم اینها بالاتر برود، آب از پائین [توسط] انرژی آفتابی به بالا پرتاب شده میتواند، چون اگر [پرتاب] این آب را با نفت [مد نظر بگیرید]، قیمتش بی حد زیاد می شود.

گلبهار یک نمونهٔ این است از دریای پنجشیر، از خاطر اینکه جاپانی ها یک سلسله مطالعات بسیار خوب تقریباً ۱۵ سال گذشته در همین دوران انجام داده اند و میخواستند یک بند را در آن ساحه ایجاد کنند، اما آنها باید زیادتر از ۱۵ متر بالا [با استفاده از پمپ های نفتی آب را] پمپ میکردند و از یک طرف ساختار جیولوجیکی منطقه مانع آن بود و از طرف دیگر قیمت به اندازهٔ ای [بالا می رفت] که قابل استطاعت نبود.

**جنبش:** ما غوښتل چې ځینې نړیوال اړخونه هم دلته رامطرح کړم، خو داسې معلومېږي چې کیدای شي په دې یوه خپرونه کې ټولو ته ونه رسېږو، نو دلته به لنډ، یو دوه پوښتنې وکړم او اساسي برخه به يې بیا اوریدونکو ته یادونه وکړم چې په بل پودکاست کې به يې ولرو چې د اوبو او د افغانستان د اوبو نړیوال اړخونه او تعهدات او معاهدي او دا...؛ دلته لنډ غواړم استاده د همدغو دوو سیندونو په تړاو فقط یوه یادونه وکړم چې زموږ د ټولو سیندونو اوبه هغه چې نورو هیوادونو ته هم بهیږي، یعنې ډیره استفاده ترېنه هغوی کړې ده، همدا اوس چې د قوشتیپې کانال جوړیږې د منځنی آسیا هیوادونه ناخوښه دي. که چېرې د کونړ سیند نه او د مرغاب سیند نه چې هغه ترکمنستان ترېنه ډېره گټه اخلې او کونړ نه پاکستان؛ که له دې نه زموږ استفاده ډېرېږي لکه هماغسې چې هلمند کې د کمال خان له بند نه وروسته ایرانیان ناخوښه وو، دلته به هم دغسې ناخوښی راپیدا شي، فکر کوئ دوی به اعتراض وکړي؟

**دکتور غني:** پوهیږئ ولې منطقه ماسره حساسه وه؟ په همدې باندې چې ما ویل آب آبروی ماست او سل ها خنډه ایجاد شول، ددې لپاره چې موږ خپلې اوبه خپلې نکړو او خوندې يې نکړو. اما له بلې خوا نه باید منطقه دې نتیجې ته ورسیږي چې بې له دې نه چې موږ په گډه او په حقه حقوقو باندې چې موږ د اوبو تولید کوونکي یو او دوی ځینې هم تولید کوونکي دي او هم اکثر يې مصرف کوونکي دي، دا اصول غواړي او بې له دې نه کیږي او څوک چې خپل حق ونشي ساتلی، نور يې گټي، نور يې ځتي.

لازمې ده چې ابعاد يې نظر کې ونیسئ او ان شاالله راتلونکې کې به ورباندې وغږیږو، اما پدې مرحله کې زه غواړم یوه خبره واضح کړم چې د هلمند معاهده ډیره اړینه ده، واضح ده، پرته له هغه حدودو نه چې ټاکل شوي دي، افغانستان مطلق حق لري چې خپلې اوبه هر څنگه چې لازمې گڼي مصرف کړي، دا پنځمه ماده ده: «افغانستان با حفظ تمام حقوق بر باقی آب رود هلمند (هیرمند) هر طوریکه خواسته باشد، از آن استفاده می نماید و آنرا به مصرف می رساند، ایران هیچ گونه ادعایی بر آب هلمند (هیرمند) بیشتر از مقادیری که طبق این معاهده تثبیت شده است، نه دارد. حتی اگر مقادیر آب بیشتر در دلتای سفلیٰ هلمند (هیرمند) میسر هم باشد و مورد استفاده ایران هم بتواند، قرار گیرد».

موږ ټینگه معاهده لرو؛ ما داسې څه نه دي کړي چې معاهده کې نه وو. خبره دا وه چې په لسیزو کې موږ په حقیقت کې ملیاردونه ډالره اوبه گاونډیو ته ورکړې وې، اما بدل کې يې راته څه نه دي راغلي او زموږ او تاسو یو

متل دی: «ورورې کوو حساب په منځ کې» نو د حساب خبره ده، او دا حساب دی چې بېرته باید اوبو [بحث] باندې راشو چې منطقي، علمي او عملي لارې یې څه دي.

**جنبش:** تاسو د هلمند د معاهدې یادونه وکړه، هماغسې چې مخکې مې وویل نړیوالو اړخونو باندې به یې بل پروګرام کې پاتې شو، ځکه دې کې وخت کم دی، دې کې یو دوه نورې لنډې پوښتنې لرم.

نخست اینکه فکر میکنید که رابطه بین دریاهای ما و آب آشامیدنی در تمام کشور و مخصوصاً در شهرها چیست، مخصوصاً آبی که از زیر زمین میآید. شما به [مرکز] ننگرهار اشاره کردید که در وضعیت نسبتاً بهتری قرار دارد، چون به دریاها نزدیک است، آیا فکر میکنید این رابطه مستقیم است یا غیر مستقیم؟

**دکتور غنی:** خوشبختانه من توانیستم طرح هایی برای شش شهر افغانستان (هرات، مزار، قندهار، کابل، خوست و جلال آباد) ایجاد کنم، که مدیریت آب شهرها به صورت دوامدار تحت یک پروگرام منظم بیاید، اینها موجود است، همه بررسی ها صورت گرفته، اما ضرورت به توجه اساسی و دوامدار دارد.

بحران آب در این شهرها خاصتاً این ست که فقیرترین افراد جامعه زیادترین قیمت را برای آب میدهند و بدون مدیریت منسجم آب دسترسی به آب در شهرهای ما به یک بحران عظیم اجتماعی در حال بدل شدن است.

**جنبش:** دې موضوع باندې هم کار شوی دی چې د سیلابونو ونډه د سیندونو څپو په ډېرولو او د اوبو د حجم په ډېرولو کې څومره ده او څنګه مدیریت کیدلای شي؟

**دکتور غني:** مدیریت یې فضل د خدای نسبتاً آسانه دی، ځکه لوی ترینه تجربه دې[برخه] کې، مثبته تجربه د چین هیواد ده او دا په خاورینو بندونو باندې کیدای شي، ځکه سیل بُرونه واضح دي او سیل بُرونه خطرناکه دي.

**دکتور جنبش:** سیل بُرونه چې اورېدونکو ته یې واضح کړو، هغه ځای کې چې دسیلاب اوبه راځي؟

**دکتور غني:** [هو] چې دسیلاب اوبه راځي او دلته بدترین کار دادی چې سیل بُر باندې کورونه آباد کړئ یا سړکونه وباسئ یا نور. په شمالې دره کې مو ولیدل، سروبي کې مو لیدلې دي او نور ځایونو کې مو لیدلي دي [چې ددې عواقب څه وو].

شمال د افغانستان کې خاصتاً موږ یوه خبیثه دایره لرو، چې شپږ میاشتې وچکالي وي شپږ میاشتې سیلابونه وي. د سیلاب مدیریت زښت ډېر مهم دی او د سیلاب خوندی کول [مهم دي]. یوه لوی ترینه برخه د کمال خان د بند دا ده چې هغه سیلابونه چې مفته پخوا تلل، او هاخوا ته د ایران په ګټه تمامیدل، اوس به بیرته ان شاالله تعالی هغه د زرې ګود او نور ګودونه چې زموږ له ډېرو سترو طبیعي پانګو نه وو، بېرته ژوندي کړي.

بله خوا يې داده چې سيلابونو سره زښته ډېره خاوره راځي، آمو سيند کې دا په زرهاوو ټنه په کال کې ده او يوه برخه يې داده چې پدې شدت سره چې دا راځي، ساحلونه د سيند ورانوي او د ساحلو ورانېدل له ورړو سيندونو تر لويو پورې اوس زموږ يوه اساسي موضوع ده چې مديريت غواړي، ځکه چې هاخوا د آمو په ګاونډيو هيوادو کې مديريت شوی، اما بالعکس زموږ خوا کمه شوې او ځکه چې سرحد منځ د سيند ټاکل شوی، دې کې موږ ډير نقصان کړی.

**جنبش:** وبخښئ چې واضح يې کړو؛ تاسې واياست مديريت يې آسانه هم دی او بايد وشي، څنګه بايد وشي مثلاً غرونو کې ورته بندونه جوړ شي، څه شی وشي؟

**دکتور غني:** غرونو کې بندونه جوړيدای شي، دا د خاورې بندونه دي، د چين تجربه که په اساسي توګه وګورئ او همدارنګه د جنوبې کوريا د ځنګلو بيا ژوندي کول، دا دوه ډيرې بارزې تجربې دي. له بدې مرغې نه ډېر وخت يې ونيوه چې موږ خپل تخنيکي خلك په دې قانع کړو. يو جنجال زموږ دادی چې -په ډير احترام سره- هغوی چې دېرش کاله پخوا يا څلوېښت کاله پخوا يا شل کاله پخوا په ډېرو سختو شرايطو کې له پولې تخنيك يا له انجينرۍ نه وتلي دي، لا هم په زړو فکرونو کې دي او دا لوی بدلون چې په چاپيريال کې راغلی او ضرورت ددې لري چې له سره په اساسي توګه تعليم ژوندی شي او اوسني علم سره يو ځای شي، په دې کې موږ ستونزې درلودې او اوس حتی هغه هم ډېر لوی خطر کې راغلی ځکه چې تخنيکي خلك اوس مسئوليت د مديريت د اوبو نه لري.

**جنبش:** يو دوه مثاله ددغو سيلابي بندونو ورکولای شو چې کوم ځای کې جوړ شوي دي، څه ګټه يې اړولې ده په دا تيرو کلونو کې؟

**دکتور غني:** چين کې دا ډيره پراخه تجربه ده. ما دا وځېړل، له بدې مرغې نه زموږ [ستونزه دا وه] بيا هم راځم دې ته ځکه چې موږ مسلکي تداوم نه دی درلودلی، ډير ځوانان راغلل ډير ژر کار ته، بې له دې چې عملي تجربه ولري او لويو څوکيو ته ورسېدل او يا خلك چې سختو شرايطو لاندې يې انجينري لوستې وه يا پولې تخنيك يې لوستی و، [ددې برخې له پاره] لازمه پوهه پيدا نه شوه او لوی ترين جنجال دا و هغه وخت چې باندينې شرکتونه راغلل يا خصوصې شرکتونه راغلل چې له دې نظر نه يې کار ونه کړ، د دواړو خبره دا وه چې څنګه قراردادونه اوږده کړي او له سره بيا مذاکرات وکړي، ددې پرځای چې کار خلاص کړي، له همدې نظر نه موږ مجبور شو چې دولتې ظرفيت ايجاد کړو چې هم چټك کار وکړو او هم په اساسي او دوامداره توګه کار وکړو.

**جنبش:** ددې وروستی پوښتنې یو دلیل مې دا و چې زه همدغه وروستي سفر کې چې افغانستان ته تللی وم، پغمان کې ځینې واړه، واړه کانکریټي بندونه وو، په وړو درو کې د غرونو جوړ شوي وو، ویل یې دا د اوبو د ګرځولو لپاره په دې تېرو شپږو، اووکلو کې جوړ شوي دي؛ ما فکر کاوه چې دا د همدغسې...

**دکتور غني:** نه؛ هغه شته مګر عرض مې دا و  چې کانکرېټ باندې باید بېرته فکر وشي، د مثال په توګه: ما واړه کانکرېټي بندونه جوړ کړي دي د ملي پیوستون پروژو او نورو له لارې، خبره دا وه چې کانکرېټ خپله د سوال لاندې دی، ځکه که اوبه ډېرې تېزې وي، لکه چې لرګی خوړل کېږي د حشراتو له خوا، همدغه رقم شګه کانکرېټ تباه کوي، له دې نه سل هاوو پروژې شته په ټولو ولایتونو د افغانستان کې او د سیندونو [ځینې ساحلونه] هم پاخه شوي دي، اما دې باندې هم بیا یو نوی نظر په کار دی، ځکه طبیعي ویالې او له خاورې نه بندونه جوړول، شاید په مراتبو ګټورتر وي تردې نه چې له کانکرېټ نه یې جوړ کړئ.

**جنبش:** این هم یک معلومات بسیار مهم است که استفاده از مواد آرزانتر و مهیاتر در محیط میتواند مفید باشد.

تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی.

**دکتور غنی:** تنها یک نقطه خدمت تان عرض کنم، که پروژه های آب در افغانستان خاصتاً در چهارچوب پروگرام همبستگی ملی که در تمام کشور بود، در حدود ٪۱۵۰ فیصد فایده داشت، در حالیکه پروژه های برق آفتابی در حدود ۱۲ تا ۱۵ ٪ نتیجه داشت، بنابر این جهت واضح است، اما ضرورت بسیار واضح است که بالای دانش ما تجدید نظر شود.

**جنبش:** بسیار تشکر، زنده باشید.

وقت این برنامه همان طوریکه قبلاً هم گفتم به پایان رسیده، اما این بحث را در برنامه دوم مربوط به منابع آبی افغانستان ادامه میدهیم.

رئیس جمهور محمد اشرف غنی تشکر از حضور تان.

**دکتور غنی:** تشکر از شما، از تمام وطنداران.

زنده باد افغانستان، یشه سن افغانستان، تل دې وي افغانستان.